د سورة الماعون تدبري لوستنه

هغه عبادت چې باید د انسان نیت، زړه او چلند اصلاح کړي

لیکوال: محمد شریف (صداقت)

تاریخ: ۱۴۰۵/۸/۲۰

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish



له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

سریزه:

هغه سورت چې ایمان زمونږ په کړنو کې لټوي

د سورة الماعون آیتونه د شمېر له پلوه لږ دي، خو د انسان د باطني او ظاهري دین‌داري د ډېرو ناسمو او دروغجنو بڼو پراخه ساحه راڅرګندوي.

دا سورت یوازې د هغه انسان په اړه نه دی چې لمونځ يې پرېښی وي، او نه یوازې د هغه چا په اړه دی چې له خپل مال یا کورنیو وسایلو څخه

بخیلي کوي؛ بلکې د هغه زړه په اړه خبرې کوي چې د آخرت حساب او جزا دروغ ګڼي، سره له دې چې ښایي ځان دین‌دار هم وښیي.

بیا د داسې انسان له کمزورو خلکو سره چلند رسوا کوي، او د هغه لمونځ هم تر پوښتنې لاندې راولي چې یوازې بې‌روحه حرکات پاتې وي؛ داسې عبادت چې د الله تعالی د رضا پر ځای د خلکو سترګې او ستاینه غواړي.

دا سورت د ایمان د حقیقت پوښتنه له ژبې څخه عمل ته، له محراب څخه د ژوند لارې ته، د لمونځ کوونکي له ظاهري حالت څخه د هغه زړه ته، او له سترو ادعاوو څخه هغو کوچنیو کارونو ته راولي چې خلک ورته اړتیا لري.

په دې سورت کې وینو چې که د ایمان حقیقت د انسان په زړه کې د رحمت، شفقت او مسؤولیت احساس راژوندی نه کړي، نو د هغه د ایمان اغېز په ژوند کې کمزوری شوی دی؛ او که لمونځ خپل خاوند د بدو اخلاقو، ریا، بخل او بې‌رحمۍ له اصلاح څخه برخمن نه کړي، نو هغه باید د خپل عبادت په کیفیت او اغېز کې جدي فکر وکړي.

انسان ښایي په خوله د دین تصدیق وکړي، خو لاس يې یتیم وشړي، زړه يې د وړي پر حال ونه خوځېږي، عبادت يې د خلکو لپاره ښکلی کړي او د مرستې دروازه د اړمن پر مخ وتړي؛ دا ټولې کړنې د هغه د دین‌داري د حقیقت په اړه جدي پوښتنې راپورته کوي.

سورة الماعون

کله چې د عبادت ظاهري بڼه د انسان د حقیقت پرده شي

deenodanish.com له څخه ښکته شوی

﴿أَرَأَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ ۝ فَذَلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الْيَتِيمَ ۝ وَلَا يَحُضُّ عَلَى طَعَامِ الْمِسْكِينِ ۝ فَوَيْلٌ لِلْمُصَلِّينَ ۝ الَّذِينَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ ۝ الَّذِينَ هُمْ يُرَاءُونَ ۝ وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ﴾

ژباړه:

«ایا تا هغه څوک لیدلی چې د جزا ورځ دروغ ګڼي؟ هماغه هغه څوک دی چې یتیم په سختۍ شړي، او د مسکین د خوړو لپاره نور نه هڅوي. نو هلاکت دی هغو لمونځ کوونکو ته چې له خپل لمانځه څخه غافل دي؛ هغه کسان چې ریا کوي او د کوچنیو مرستو او ګټو له رسولو څخه ډډه کوي.»

د دین تکذیب هغه مهال څرګندېږي چې ایمان په ژوند کې اغېز ونه کړي

سورت په یوې پوښتنې پیلېږي:

﴿أَرَأَيْتَ﴾؟

«ایا لیدلی دې دی؟»

دلته پوښتنه یوازې د یوه ناپېژندل شوي خبر د معلومولو لپاره نه ده؛ بلکې د بصیرت د راویښولو او د یوه حقیقت د پام وړ ګرځولو لپاره ده.

لکه قرآن چې وایي: ایا تا په رښتیا دا ډول انسان لیدلی؟ ایا د هغه نښې دې په غور کتلي؟ ایا دې درک کړې چې د دین تکذیب تل د ښکاره انکار په بڼه نه وي؛ بلکې کله ناکله د انسان په چلند او ټولنیزو اړیکو کې هم د هغه د عقیدې د خرابوالي نښې څرګندېږي؟

قرآن د دین تکذیب کوونکی یوازې په فلسفي خبرو او نظري ادعاوو نه راپېژني؛ بلکې د هغه په وړاندې یو کمزوری انسان دروي:

یتیم.

یتیم دلته یوازې یوه ټولنیزه موضوع نه ده؛ بلکې د انسان د اخلاقو او د هغه د زړه د حالت د څرګندېدو یوه مهمه هنداره ده.

يتيم داسې ځواک نه لري چې څوک پرې ووېروي، نه داسې مقام لري چې خلک ورته د ګټې لپاره ورنږدې شي، او نه داسې مال لري چې نور ترې د ګټې تمه وکړي؛ نو له هغه سره د انسان په چلند کې د هغه د زړه ډېر پټ حقیقتونه څرګندېږي.

څوک چې یوازې د کومې ګټې لپاره رحم کوي، ښایي له هغه څخه مخ واړوي؛ څوک چې د بدلې او ستاینې په تمه نیکي کوي، ښایي هغه له پامه وغورځوي؛ خو هغه څوک چې زړه یې د ایمان په رڼا روښانه وي، د یتیم په کمزورۍ کې هغه امانت وینې چې الله تعالی د خلکو ترمنځ ایښی دی.

په دې توګه سورت یتیم د انسان د عقیدې او اخلاقو یوه خاموشه ازموینه ګرځوي.

یتیم له انسانه دا نه پوښتي چې: «د آخرت په اړه څه وایې؟» بلکې د خپل ضعف او اړتیا په حالت کې د هغه مخې ته درېږي؛ بیا د هغه د لاس په حرکت، د غږ په انداز او د زړه په پراخوالي کې د خپلې پوښتنې ځواب وینې.

که انسان له هغه سره سختي وکړي، په زور یې وشړي او داسې احساس ورکړي چې د پلار له لاسه ورکولو سره یې په خلکو کې خپل ځای هم له لاسه ورکړی دی، نو د هغه چلند د زړه د قساوت یوه څرګنده نښه ده؛ که څه هم په ژبه یې د ایمان او آخرت په اړه هېڅ نه وي ویلي.

﴿أَرَأَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ﴾

کله چې د آخرت د انکار اغېز په چلند کې راڅرګند شي

په دې آیت کې د «الدین» اصلي مراد د جزا، حساب او بدلې ورځ ده؛ یعنې هغه ورځ چې انسان به د خپلو اعمالو پایله وینې او د الله تعالی په وړاندې به د خپلو کړنو مسؤول وي.

څوک چې د جزا ورځ دروغ ګڼي، په عملي ژوند کې داسې چلند کوي لکه د ده کړنې چې یوازې د دنیا تر پولو محدودې وي؛ لکه هغه کمزورې چې ده پرې ظلم کړی، یوه ورځ به د عادل حاکم په وړاندې د ده پر ضد ونه درېږي؛ لکه هغه اوښکه چې ده تویولې، بې حسابه به وچه شي؛ او لکه هغه دروازې چې ده د اړمنو پر مخ تړلې، په آخرت کې به یې حساب ورسره ونه شي.

د جزا پر ورځ ایمان هر عمل ته له دنیا ورهاخوا پایله ورکوي.

دا ایمان انسان ته ښیي چې یوه خبره یوازې د هغې د غږ تر اندازې محدوده نه ده، یوه کتنه یوازې د هغې د شپې په اندازه نه ده، صدقه یوازې د خپل مادي ارزښت په اندازه نه ده، او ظلم یوازې د خپلې ژر ترلاسه کېدونکې ګټې په اندازه خطرناک نه دی.

خو کله چې د آخرت حساب او جزا د انسان له فکر څخه ووځي، ژوند د زور او ځواک پر یوه ډګر بدلېدای شي؛ زورور تر خپلې وسې اخلي او کمزورى څنډې ته ټېل وهل کېږي، ځکه د ځان د دفاع لپاره هېڅ وسیله نه لري.

له همدې امله سورت د دین د تکذیب کوونکي د پېژندلو لپاره د هغه د چلند یوه څرګنده نښه وړاندې کوي.

انسان ښایي د ایمان په اړه ډېرې خبرې وکړي، خو عقیده یوازې یوه حفظ شوې وینا نه ده؛ عقیده هغه باطني باور دی چې د انسان اړیکې له الله تعالی او د هغه له بندګانو سره تنظیموي.

کله چې د ایمان اغېز د ازموینې پر مهال څرګند نه شي، نو ژبه یې مخکې تللې وي، خو زړه او عمل یې ورپسې پاتې وي.

﴿فَذَٰلِكَ الَّذِي يَدُعُّ الْيَتِيمَ﴾

هغه لاس چې د انسان د زړه پټ حقیقت څرګندوي

په ﴿فَذَٰلِكَ﴾ کې د «فاء» له لارې د مخکینۍ پوښتنې ځواب وړاندې کېږي:

غواړي هغه وپېژنې؟ هماغه څوک دی چې یتیم په سختۍ او جفا شړي.

د «يَدُعُّ» کلمه یوازې د عزت نه کولو معنا نه لري؛ بلکې په سختۍ او زور سره د ټېل وهلو او شړلو معنا لري؛ داسې چلند چې د انسان د زړه دننه قساوت او بېرحمي څرګندوي.

نو هغه لاس چې یتیم شړي، یوازې د یتیم بدن نه ټېل وهي؛ بلکې د رحمت او شفقت له غوښتنې سره هم مخالفت کوي، د آخرت د حساب له یاد څخه غافل کېږي او د ځواک او مقام پر بنسټ د انساني اړیکو د تنظیم ناسم چلند څرګندوي.

یتیم د خپل پلار د له لاسه ورکولو درد له ځان سره وړي.

ښایي د نورو ماشومانو په څېر ښکاره شي، خو په زړه کې یې داسې تشه وي چې هر ځل یې احساسوي، کله چې د بل ماشوم پر لور د پلار لاس ووینې، یا د کوم ماشوم غږ واوري چې خپل پلار بولي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

هغه یوازې خواړه نه غواړي؛ بلکې غواړي احساس کړي چې د پلار له مړینې وروسته ټوله نړۍ د ده پر وړاندې په ډبوال نه ده بدله شوې.

کله چې انسان هغه په سختۍ وشړي، یوازې د یوه کوچني بدن له ټپل وهلو سره یې کار نه وي؛ بلکې د هغه د زړه پر داسې ځای فشار راوړي چې لا له وړاندې د فقدان او بېلتون له درده اغېزمن شوی دی.

له همدې امله د یتیم درناوی یوازې د هغه د نفقې برابرول نه دي، او د هغه د زړه رغول یوازې یوه صدقه نه ده؛ بلکې هغه زړه ته چې له وخته له فقدان سره مخ شوی، د امنیت، مهربانۍ او ملاتړ یوه برخه ېبرته ورګرځول دي.

قرآن کریم په بل ځای کې هم د یتیم په اړه د الله تعالی ځانګړی حکم بیانوي:

﴿فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ﴾ (الضحى: ٩)

ژباړه: «نو یتیم مه زوروه او مه یې ځوروه.»

او فرمایي:

﴿كَلَّا بَلْ لَا تُكْرِمُونَ الْيَتِيمَ﴾ (الفجر: ١٧)

ژباړه: «داسې نه ده؛ بلکې تاسو د یتیم درناوی نه کوئ.»

دا آیتونه څرګندوي چې د یتیم په اړه د اسلام غوښتنه یوازې دا نه ده چې هغه ونه وهل شي؛ بلکې د هغه عزت، حقونه او انساني کرامت هم باید خوندي شي.

له همدې ځایه پوهېږو چې ولې سورت له یتیم سره د انسان چلند د هغه د دین‌داری له مهمو نښو څخه ګرځوي؛ ځکه ربښتینی ایمان د انسان په زړه کې د کمزورو او بې‌وسه خلکو د حقونو احساس راژوندی کوي.

مؤمن یوازې هغه نه دی چې د کمزوري له چیغې وروسته متوجه شي؛ بلکې هغه دی چې د هغه د اړتیا او درد په وړاندې له چیغې پورته کېدو مخکې د مرستې فکر وکړي.

﴿وَلَا يَحُضُّ عَلَىٰ طَعَامِ الْمِسْكِينِ﴾

کله چې د بل د لوړې پر وړاندې د مسؤولیت احساس کمزوری شي

آیت ونه ویل:

«مسکین ته خواړه نه ورکوي»، بلکې ویې ویل:

﴿وَلَا يَحُضُّ﴾

«او د مسکین د خوړو لپاره هڅونه نه کوي.»

دلته سورت لا ژورې معنا ته ځي؛ یوازې هغه لاس نه محاکمه کوي چې څه یې نه دي ورکړي، بلکې هغه زړه هم تر پوښتنې لاندې راولي چې نور د بل په حال نه خوږېږي، هغه ژبه هم چې د رحمت او خیر بلنه نه ورکوي، او هغه ټولنیز چلند هم چې لوړه وینې، خو خپل ژوند ته داسې ادامه ورکوي لکه هېڅ چې نه وي شوي.

کېدای شي یو انسان دومره مالي توان ونه لري چې مسکین ته خواړه ورکړي؛ خو یوه خبره خو کولی شي چې یو توانمند انسان خیر ته وهڅوي، یا اړمن له یوه خیرخواه سره وصل کړي، یا داسې دریځ ونیسي چې په ټولنه کې د وړې یوازې پرېښودل د شرم خبره وګرځي.

که انسان نه خپله مرسته کوي او نه نور د مرستې لپاره هڅوي، نو د رحمت او مسؤولیت احساس یې په زړه کې کمزوری شوی دی؛ یو ځل هغه مهال چې لاس یې د مرستې لپاره نه دی غځېدلی، او بل ځل هغه مهال چې ژبه یې د خیر بلنې ته چوپه پاتې شوې ده.

د آیت په تعبیر کې هم دقت وکړئ:

﴿طَعَامِ الْمِسْكِينِ﴾

«د مسکین خواړه».

په دې تعبیر کې د مسکین د اړتیا او د هغه د حق موضوع په پام کې نیول کېږي. د قرآن له عمومي لارښوونو څخه هم څرګندېږي چې د شتمنۍ په اړه د انسان مسؤولیت یوازې د خپل ځان او کورنۍ تر اړتیاوو پورې محدود نه دی؛ بلکې د اړمنو حقونه هم باید په پام کې ونیسي.

ورکوونکی د فقیر روزي نه پیدا کوي؛ بلکې الله تعالی روزي ورکوونکی دی او انسان د خیر د رسولو یوه وسیله ګرځي.

په دې توګه سورت د ورکړې اخلاق سموي:

deenodanish.com له څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

اړمن له تا ځکه پوروړی نه دی چې تا څه ورکړي؛ بلکې ته باید د الله تعالی شکر وباسې چې هغه دې د خیر د رسولو وسیله ګرځولی یې، نه د اړتیا وړ کس.

د سورت په میزان کې لوړه یوازې د یوه فرد ستونزه نه ده؛ بلکې د ټولنې لپاره یوه اخلاقي پوښتنه ده:

څنګه تاسو مور یاست، خو ستاسو په منځ کې یو انسان وږی دی؟

څنګه دسترخوانونه ډک دي، خو د تشې کاسې لپاره یو زړه نه خوځېږي؟

څنګه خواړه د نعمت د نندارې وسیله ګرځېدلي، پر ځای د دې چې د رحمت د رسېدو پُل وي؟

د مسکین د خوړو لپاره هڅونه دا معنا لري چې رحمت یوازې یو شخصي احساس نه دی؛ بلکې باید په ټولنه کې په یوه کلتور بدل شي؛ داسې چې لوړه د ټولنې لپاره د شرم او مسؤولیت موضوع وي، نه داسې برخلیک چې ماړه خلک یې یوازې ننداره کوي.

﴿فَوَيْلٌ لِلْمُصَلِّينَ﴾

کله چې د عبادت ظاهري بڼه د انسان د غولونې وسیله شي

تر دې ځایه د دین د تکذیب، د شړل شوي یتیم او د هېر شوي مسکین خبره وه؛ ناڅاپه آیت راځي:

﴿فَوَيْلٌ لِلْمُصَلِّينَ﴾

«نو هلاکت دی هغو لمونځ کوونکو ته!»

دا آیت د انسان هغه دروغجن ډاډ لړزوي چې ګومان کوي یوازې د عبادت ظاهري بڼه د نجات لپاره بسنه کوي.

ستونزه تل له جومات څخه بهر نه وي؛ کېدای شي انسان د لمانځه په صف کې حاضر وي، خو د لمانځه له حقیقي موخې او پیغام څخه غافل وي.

بدن یې رکوع کوي، خو تکبر یې نه ټیټېږي؛ سر یې سجده کوي، خو ځان‌غوښتنه یې نه کمېږي؛ د الله تعالی ذکر کوي، خو په زړه کې یې د ریا، قساوت او بخل لپاره لا هم ځای پاتې وي.

آیت ونه ویل:

«فَوَيْلٌ لِتَارِكِي الصَّلَاةِ»

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

يعني هلاکت دې وي د لمانځه پربښوونکو ته؛ بلکې ويې ويل:

﴿فَوَيْلٌ لِلْمُصَلِّينَ﴾

«هلاکت دی هغو لمونځ کوونکو ته.»

خو سمدستي يې په راتلونکو آيتونو کې د دغو لمونځ کوونکو ځانګړنې بيان کړې:

﴿الَّذِينَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ ۝ الَّذِينَ هُمْ يُرَاءُونَ ۝ وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ﴾

يعني هغه لمونځ کوونکي چې له خپل لمانځه څخه غافل دي، ريا کوي او د کوچنيو مرستو او ګټو له رسولو څخه ډډه کوي.

نو دا خبرداری د ټولو لمونځ کوونکو په اړه نه دی؛ بلکې د هغو ځانګړو کسانو په اړه دی چې د لمانځه په اړه بې‌پروايي کوي او عبادت يې له اخلاص او د الله تعالی له اطاعت څخه لرې شوی وي.

لکه چې سورت مورِ ته خبرداری راکوي: عبادت بايد د انسان د باطني اصلاح وسيله وي، نه هغه پرده چې د زړه خرابوالی پرې پټ کړي.

هغه لمونځ چې الله تعالی يې غواړي، له ژوند څخه لنډمهاله جلا کېدل نه دي؛ بلکې د اصلاح شوي زړه او پاک نيت په مرسته ژوند ته بېرته ستنېدل دي.

الله تعالی فرمايي:

﴿إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَىٰ عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنْكَرِ﴾ (العنكبوت: ۴۵)

ژباړه: «بېشکه لمونځ له بې‌حيايۍ او ناوړه کړنو څخه منع کوي.»

لمونځ د انسان د روح د اصلاح لپاره تکرارېدونکی عبادت دی؛ هغه ته بيا ورپه يادوي چې خپل حقيقي مقام وپېژني: يو بنده چې د الله تعالی په وړاندې د هغه د نورو بندګانو ترڅنګ ولاړ دی.

که انسان له لمانځه وروسته پر يتيم ځان لوړ وبولي، د مسکين د لوړې په وړاندې بې‌پروا وي، د خلکو د سترګو په لټه کې وي او له ساده خير څخه هم ډډه وکړي، نو بايد له ځانه وپوښتي چې د لمانځه اغېز يې ولې په ژوند کې نه دی څرګند شوی؟

بيا د عبادت حرکات د انسان لپاره د اصلاح غوښتنې يادونه ګرځي، نه دا چې يوازې د ظاهري حالت د ښه ښودلو وسيله وي.

﴿الَّذِينَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُونَ﴾

د لمانځه په اړه غفلت او له ژوند څخه د عبادت بېلتون

آيت وايي:

﴿عَنْ صَلَاتِهِمْ﴾

«له خپل لمانځه څخه غافل دي.»

او ونه يې ويل:

«فِي صَلَاتِهِمْ»

يعنې په خپل لمانځه کې غافل دي.

په لمانځه کې کله ناکله ذهني هېرېدنه او د فکر خپرېدل د انسان له طبيعت سره ټرلي دي؛ انسان ښايي د لمانځه په جريان کې د رکعتونو شمېر هېر کړي يا يې فکر بلې خوا ته ولاړ شي، خو دا ډول نااراديِ هېرېدنه د آيت د اصلي غندنې موضوع نه ده.

له لمانځه څخه غفلت د هغه د اهميت په اړه بې‌پروايي، د هغه د وخت ضايع کول، د هغه مقام سپک ګڼل او له اصلي موخې څخه يې بېلول دي.

مفسرينو د دې غفلت په تفسير کې د لمانځه ځنډول، د هغه په وخت کې بې‌پروايي او د هغه د حق نه ادا کول ياد کړي دي.

دوی د لمانځه په اړه جدي اندېښنه نه لري؛ يوازې دومره يې ادا کوي چې د خپل ظاهري دين‌داري بڼه وساتي. کله چې خلک حاضر وي، د دوی نشاط هم حاضر وي؛ او کله چې خلک نه وي، د لمانځه شوق او پابندي يې کمزورېږي.

د «سهو» معنا يوازې د لمانځه له ادا کولو سره نه ختمېږي؛ انسان له لمانځه فارغ شي، خو د هغه له پيغام او هغه ټرون څخه هم غافل شي چې هره ورځ يې د الله تعالى په وړاندې تازه کوي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

په لمانځه کې وايي:

﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ﴾

«يوازې ستا عبادت کوو.»

خو بيا د خلکو د ستاينې او مقام غوښتنې تر اغېز لاندې راځي، او د هغوی رضا ته تر هغه اندازې اهميت ورکوي چې د خپل اخلاص پر زيان تمامېږي.

وايي:

﴿إِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾

«يوازې له تا مرسته غواړو.»

خو زړه يې بيا په ځواک، مقام او دنيوي وسايلو پورې داسې تړل کېږي چې د الله تعالى پر توکل او مرسته يې اغېز کمزورى کېږي.

له الله تعالى څخه د هدايت غوښتنه کوي، خو بيا له اړمن څخه داسې تېرېږي لکه د هدايت لاره چې له هغه سره هېڅ تړاو ونه لري.

تر ټولو خطرناک غفلت دا نه دی چې انسان د لمانځه په جريان کې د رکعتونو شمېر هېر کړي؛ بلکې دا دی چې د لمانځه له اهميت، د هغه له حقونو او د هغه له اصلي موخې څخه بې‌پروا شي.

انسان ښايي په يوه سجده کې له هغه غفلته راويښ شي چې د لمانځه پر مهال ورسره مخ شوی؛ خو څوک به هغه له هغه دوامدار غفلته راويښ کړي چې ټول ژوند يې له خپل اصلي مفهوم او د الله تعالى له اطاعت څخه لرې کړی وي؟

﴿الَّذِينَ هُمْ يُرَاءُونَ﴾

ريا؛ کله چې د خلکو سترګې د عبادت پټه قبله شي

ريا دا ده چې انسان په ظاهر کې عمل د الله تعالى لپاره کوي، خو په باطن کې يې نيت او موخه د خلکو ستاينه، شهرت او د هغوی په زړونو کې مقام ترلاسه کول وي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

بدن يې د قبلې پر لور وي، خو زړه يې د خلکو سترګو ته اړوي.

کله چې خلک يې وينې، عبادت اوږدوي؛ کله چې يوازې شي، د عبادت پابندي يې کمزورېږي. کله چې ستايل کېږي، نشاط يې زياتېږي؛ او کله چې څوک يې د نيکۍ يادونه نه کوي، سستېږي.

البته بايد په دې برخه کې يو مهم توپير په پام کې ونيسو: هر هغه څوک چې د خلکو له ستاينې څخه خوشحالېږي، حتماً مرايي نه دی؛ اصلي ستونزه هغه مهال ده چې انسان عبادت د خلکو د ستاينې او ځان ښودنې لپاره ترسره کوي، يا د هغوی د رضا لپاره خپل اخلاص خرابوي.

مرايي انسان يوازې د الله تعالی د رضا لپاره عمل نه کوي؛ بلکې د خلکو په سترګو کې د خپل تصوير عبادت هم کوي.

تر ټولو دردونکې خبره دا ده چې ښايي هغه څه هم ترلاسه کړي چې غوښتل يې: لنډمهاله ستاينه، ښه نوم او په خلکو کې مقام؛ خو کله چې د آخرت حساب ته ورسېږي، پوه به شي چې خپل تر ټولو قيمتي اعمال يې د هغو خبرو د ترلاسه کولو لپاره مصرف کړي وو چې د ويونکو په خولو کې هم له منځه تللې دي.

ريا د الله تعالی او بنده ترمنځ د اخلاص اړيکه خرابوي؛ ځکه عبادت له الله تعالی سره له يوې پټې او سپېڅلې اړيکې څخه په ټولنيز نندارتون بدلوي.

کله چې خلک د عبادت نندارچيان شي، د هغوی رضا معيار ګرځي او اطاعت خپل هغه ارام او رښتينی صداقت له لاسه ورکوي.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

«إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ، وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى»

ژباړه: «بېشکه د عملونو ارزښت په نيتونو پورې تړلی دی، او هر انسان ته به د هغه د نيت مطابق بدله ورکول کېږي.»

(صحيح البخاري: ١؛ صحيح مسلم: ١٩٠٧)

له همدې امله پټ عمل د روح لپاره يو پياوړی پناه‌ځای دی؛ ځکه په پټه کې د چکچکو او ستاينې اړتيا له منځه ځي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

هلته انسان د خپل عام تصوير له جامې پرته د خپل رب په وړاندې درېږي.

هلته د هغه اوښکه يوازې الله تعالى وينې، د هغه دعا يوازې الله تعالى اوري، او د هغه د رښتينې هڅې حقيقت يوازې الله تعالى په بشپړ ډول پېژني.

همدلته، په هغه ځای کې چې د خلکو نندارچيان نه وي، خرګندېږي چې مور په حقيقت کې د چا د رضا لپاره عبادت کوو.

﴿وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ﴾

کله چې انسان د کوچنيو مرستو په ازموينه کې ناکام شي

سورت په دې آيت پای ته رسېږي:

﴿وَيَمْنَعُونَ الْمَاعُونَ﴾

يعنې هغوی د ماعون له ورکولو څخه ډډه کوي.

د «ماعون» د معنا په اړه د مفسرينو بېلابېل اقوال راغلي دي. ځينو هغه زکات بللی، ځينو د کور د اړتيا وړ وسايل او د ورځنۍ ژوند هغه شيان چې خلک يې يو بل ته پور ورکوي، او ځينو عامې وړې مرستې او ګټې ترې مراد کړې دي.

نو د دې کلمې معنا يوازې په يوه کوچنۍ لوښي يا يوه ځانګړي شي پورې محدوده نه ده؛ بلکې د مفسرينو د اقوالو له مخې د مرستې او ګټې بېلابېل ډولونه رانغاړي.

دا پای ډېر د پام وړ دی.

سورت د دين د تکذيب له يوې سترې مسئلې څخه پيل شو، خو په پای کې د هغو وړو مرستو خبره کوي چې انسان يې له بل څخه نه سپموي.

لکه چې سورت د عقيدې د فساد او د لاس د بخل ترمنځ اړيکه رابښيي: کله چې په زړه کې د آخرت د حساب احساس کمزوری شي، اغېز يې ان په تر ټولو کوچنيو شيانو کې هم خرګندېږي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د داسې زړه خاوند یوازې له لویو شتمنیو څخه مرسته نه منع کوي؛ بلکې ان له هغه شي څخه هم د بل انسان ګټه اخیستل نه شي زغملی چې خپله ورته اړتیا نه لري.

منع کول د هغه د روح برخه ګرځېدلې وي.

هغه شیان د رحم او همکارۍ وسیلې نه ویني؛ بلکې داسې دیوالونه یې ګڼي چې د خپل ملکیت حدود پرې ټاکي او ځان پرې له خلکو بېلوي.

ماعون یوه ورځنۍ ازموینه ده چې ډېرې شتمنۍ ته اړتیا نه لري.

کېدای شي انسان د روغتون د جوړولو توان ونه لري؛ خو یوه وسیله پور ورکولای شي، سرګردانه کس ته لار ښودلای شي، د چا بار وړلای شي، بل ته ځای پراخولای شي، خپل وخت ورکولای شي، یا خپله پوهه له بل سره شریکولای شي.

دا کارونه د مادي حساب له مخې ښایي واړه ښکاره شي، خو د انسان د زړه د پراخوالي اندازه څرګندوي.

سخاوت یوازې د هغه څه په اندازه نه دی چې ته یې ورکوې؛ بلکې د دې په اندازه هم دی چې څومره چمتو یې د بل انسان لپاره ګټور واوسې.

کېدای شي یو انسان ډېر څه ولري، خو هېڅ ته ګټور نه وي؛ او بل ښایي یوازې لږ څه ولري، خو الله تعالی یې حضور د پناه ځای، خبره یې د زړه د رغېدو وسیله او لاس یې د مرستې سبب ګرځولی وي.

لومړی انسان د یوې ټرلې زېرمتون په څېر دی؛ او دویم د هغې کړکۍ په څېر دی چې رڼا ترې ننوځي.

د سورت د آیتونو ترمنځ پټه اړیکه:

د آخرت له غفلت څخه د ټولنیز مسؤولیت تر هېرېدو پورې

سورت څو داسې حالتونه او انسانان زموږ مخې ته دروي چې هر یو یې له یوه ډول محرومیت او اړتیا سره مخ دی:

یتیم؛ د پلار له سیوري او ملاتړ څخه محروم دی.

مسکین؛ د خوړو او لومړنیو اړتیاوو له کمښت سره مخ دی.

لمونځ کوونکی؛ د لمانځه د حق او حقیقي موخې په اړه غفلت کوي.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

مرايي؛ د عبادت په نيت کې د اخلاص پر ځای د خلکو رضا لټوي.

او ټولنه؛ د يو بل د اړتياوو په پوره کولو کې له همکارۍ څخه ډډه کوي.

خو د دې ټولو تر شا يو بل خطرناک غفلت هم پروت دی:

له زړه څخه د آخرت د حساب او جزا غيابت.

کله چې د آخرت ياد د انسان له زړه څخه کمزوری شي، د هغه پر چلند هم اغېز کوي:

يتيم شړل کېږي، ځکه چې ځواک نه لري؛ مسکين هېرېږي، ځکه چې له هغه څخه د ګټې تمه نه کېږي؛ لمونځ د خلکو د سترګو لپاره ادا کېږي؛ او «ماعون» ځکه نه ورکول کېږي چې انسان خپل ذات د ژوند مرکز ګرځولی وي.

خو کله چې د آخرت حساب او د الله تعالی د رضا غوښتنه د انسان په زړه کې ژوندي وي، د هغه چلند هم بدلېږي:

يتيم امانت ګرځي؛

مسکين د الله تعالی د رضا د ترلاسه کولو يوه وسيله ګرځي؛

لمونځ د بنده او خپل رب ترمنځ د اخلاص او اطاعت اړيکه پياوړې کوي؛

او ماعون د مينې، همکارۍ او انساني اړيکو د جوړولو فرصت ګرځي.

په دې توګه سورة الماعون د ايمان او انساني مسؤوليت ترمنځ بېلتون نه مني.

هغه دين‌داري د قرآن له دې لارښوونو سره په ټکر کې ده چې له امله يې کمزوري خلک لا وېرېږي، وړې لا يوازې کېږي او ارمنان له خپلو حقونو محرومېږي.

او هغه لمونځ هم د خپلې اصلي موخې له اغېز څخه بې‌برخې شوی دی چې د انسان ظاهري بڼه د خلکو په وړاندې ښکلې کړي، خو له خلکو سره يې چلند ښکلی نه کړي.

deenodanish.com له څخه ښکته شوی

د سورت پټ پیغام:

د خپل ایمان حقیقت په خپلو کړنو کې ولټوئ

سورة الماعون په یوه ارام، خو سخت لړزوونکي انداز مورِ ته وایي:

د خپل ایمان حقیقت یوازې په هغو خبرو کې مه لټوئ چې د ځان په اړه یې کوئ؛ بلکې په هغه اغېز او اثر کې یې هم ولټوئ چې ستاسو له امله د هغو خلکو په ژوند کې پاتې کېږي چې تاسو ته د بدل ورکولو هېڅ توان نه لري.

وګورئ چې له هغه یتیم سره څنګه چلند کوئ چې هېڅ واسطه او ملاتړ نه لري؛ له هغه مسکین سره څنګه چلند کوئ چې ستاسو د ورکړې بدل نه شي درکولای؛ هغه عبادت څنګه کوئ چې هېڅوک مو نه وینې؛ او هغه وړوکی شی څنګه ورکوئ چې ګاونډی یا اړمن یې درڅخه غواړي.

همدلته، د ژوند په هغو څنډو کې چې مورِ یې ښایي حاشیوي وګڼو، د یوې سترې پوښتنې ځواب لیکل کېږي:

﴿أَرَأَيْتَ الَّذِي يُكَذِّبُ بِالدِّينِ﴾

«ایا تا هغه څوک لیدلی چې د جزا ورځ دروغ ګڼي؟»

سورة الماعون یوازې د یوې کاشوغې د پور ورکولو، یوې مړې د ورکولو یا د یتیم پر سر د لاس تېرولو په اړه نه ده؛ بلکې د دین‌داریِ ټول مفهوم له سره راپېژني:

دا چې په زړه کې د الله تعالی عظمت داسې حضور ولري چې له ریا څخه دې وساتي؛

د آخرت حساب او جزا دې داسې په یاد وي چې له ظلم او د خلکو د حقونو له ضایع کولو څخه دې منع کړي؛

لمونځ دې داسې اغېز ولري چې له قساوت، بې‌رحمیِ او ناوړه کړنو څخه دې وژغوري؛

او د خلکو حقونه داسې وپېژنې چې د خیر دروازه شې، نه د مرستې د منع کولو دېوال.

یوازې اووه آیتونه دي، خو داسې تله ږدي چې د انسان د روح او ژوند هېڅ مهم اړخ بې پوښتنې نه پرېږدي.

ستاسو عبادت ستاسو له انسانیت، اخلاقو او له خلکو سره له چلند سره څه کړي دي؟

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

د ځان محاسبه او تدبري پوښتنې:

۱. ایا زما د آخرت پر ورځ ایمان زما په ورځني ژوند او له خلکو سره په چلند کې څرګندېږي؟

۲. ایا له یتیم، کمزوري او بې‌وسه انسان سره زما چلند د رحمت او شفقت څرګندونه کوي؟

۳. که زه خپله مسکین ته خواړه نه شم ورکولای، ایا نور د هغه مرستې ته هڅوم؟

۴. ایا زما لمونځ زما په اخلاقو، امانت‌داری او د خلکو د حقونو په ساتنه کې مثبت بدلون راولي؟

۵. ایا زه د لمانځه په وخت او ادا کولو کې پابند یم، که یوازې د خلکو په وړاندې د دین‌داری ظاهري بڼه ساتم؟

٦. ایا زما عبادت د الله تعالی د رضا لپاره دی، که د خلکو د ستاینې او ښه نوم ترلاسه کولو لپاره هم پکې د ځان ښودنې نیت شته؟

۷. ایا زه د وړو مرستو په وړاندې هم بخیلي کوم، که د خپل توان مطابق د نورو د ګټې لپاره هڅه کوم؟

۸. که نن د خپلو کړنو محاسبه وکړم، ایا زما عبادت زما په زړه کې د الله تعالی وېره، د هغه له بندګانو سره رحمت او د آخرت لپاره چمتووالی زیات کړی دی؟

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

وروستۍ پایله:

د سورة الماعون تدبر موږ دې حقیقت ته رابولي چې ایمان یوازې د ژبې ادعا، لمونځ یوازې د بدن حرکات، او دین‌داري یوازې ظاهري بڼه نه ده.

ریښتینی ایمان باید د انسان په نیت، عبادت، اخلاقو او ټولنیز چلند کې اغېز ولري.

د آخرت پر ورځ ایمان باید انسان د ظلم له کولو څخه وساتي؛ له یتیم سره د رحمت او شفقت چلند باید وکړي؛ د مسکین د لوړې پر وړاندې باید بې‌پروا نه وي؛ لمونځ باید په اخلاص او پابندۍ ادا کړي؛ له ریا څخه باید ځان وساتي؛ او د نورو د وړو اړتیاوو په پوره کولو کې باید همکاري وکړي.

دا سورت موږ ته رابنیي چې د انسان د دین‌داری حقیقت یوازې په هغو عبادتونو کې نه څرګندېږي چې خلک یې وینې؛ بلکې په هغو پټو نیتونو او کوچنیو کړنو کې هم څرګندېږي چې ښایي هېڅوک یې ونه وینې.

نو د خپل ایمان او عبادت د اصلاح لپاره باید له ځانه دا پوښتنه وکړو:

ایا زما لمونځ یوازې زما د بدن حرکات بدلوي، که زما زړه، نیت، اخلاق او له خلکو سره زما چلند هم اصلاح کوي؟

سبحان الله! اووه آیتونه، خو د انسان د عقیدې، عبادت، اخلاص، اخلاقو او ټولنیز مسؤولیت لپاره څومره ژور پیغامونه!

اللهم أصلح قلوبنا وأعمالنا، وارزقنا الإخلاص في القول والعمل.

ژباړه: اې الله! زموږ زړونه او عملونه اصلاح کړه، او په وینا او عمل کې موږ ته اخلاص را په برخه کړه.

آمین یا رب العالمین.

له deenodanish.com څخه ښکته شوی Deen-o-Danish

سرچينې او حوالې:

١. القرآن الكريم، سورة الماعون، الآيات: ١–٧.

٢. القرآن الكريم، سورة الضحى، الآية: ٩.

٣. القرآن الكريم، سورة الفجر، الآية: ١٧.

٤. القرآن الكريم، سورة العنكبوت، الآية: ٤٥.

٥. الطبري، محمد بن جرير، جامع البيان عن تأويل آي القرآن، تفسير سورة الماعون.

٦. ابن كثير، إسماعيل بن عمر، تفسير القرآن العظيم، تفسير سورة الماعون.

٧. القرطبي، محمد بن أحمد، الجامع لأحكام القرآن، تفسير سورة الماعون.

٨. السعدي، عبد الرحمن بن ناصر، تيسير الكريم الرحمن في تفسير كلام المنان، تفسير سورة الماعون.

٩. صحيح البخاري، كتاب بدء الوحي، حديث: ١.

١٠. صحيح مسلم، كتاب الإمارة، حديث: ١٩٠٧

له deenodanish.com څخه ښکته شوی